ايمل « مړوند »
د نشر نيټه : ۸ نوامبر ۲۰۱۲ ميلادى

# د ختيځ ادبي بهير د ۱۷ مې اونيزې غونډې راپور





ختيځ ادبي بهير خپله ۱۷ مه اونيزه غونډه د ( ۱۳۹۱ ) کال د لړم په ۱۹ مه نيټه د تکړه شاعر او ليکوال نورالحبيب نثار په کوربه توب د جلال اباد ښار د ميوديوتيک په انګړ کې ترسره کړه.

داغونډه چې پرانيسته يې شکرالله قلندري د قران پاک د څو مبارکو اياتونو پرتلاوت وکړه د ويندويۍ چارې يې د تل په څير د عرفان الله بيدار په غاړه وي او د مېلمنو پرځوکويو له پېښوره راغلی ميلمه عماد الدين دوران، ډاکټر صداقت او عمران الله خنجر ناست وو.

د دود سره سم په سرکې د تېرې اوونيزې ناستې د ګزارش د لوستلو لپاره ايمل مړوند دريځ ته وبلل شو او ګډونوالو ته يې ګزارش واورولو.

پر ګزارش د خبرو پيل انجينرستانه مير زهير شينواري وکړ، وې ويل : (( ګزارش ډېر ښه او روان ليکل شوی و او ترپايه يې ډېر ښه تسلسل درلودولو، خو مړوند په ډېره تيزه لهجه ولوستلو(( راحت ګل زيارمل هم د مړوند د ګزارش ليکنې ستاينه وکړه، خو دا پله يې د لوستلو انداز خوښ نه کړ او زياته يې کړه، چې کزارش يې تېز ولوستلو او لکه ځان يې چې تربنه خلاصولو.





خوشال دوراني بیا په ګزارش کې د ګډونکونکو د نوم لړ په اړه خبرې وکړې او وې ویل چې که چېرته د برخوالو نومونه د د غونډې د ارزونکي له خبرو ورسته یاني د ګزارش په پای کې راشي له انده یې ښه به وي.

پرګزارش ډېرې خبرې ونه شوې او ناستو اکثره ملګرو یې د لیکلو ستاینه وکړه، خو دا پله یې د مېروند د تېز ګزارش لوستل خوښ نه کړل.

د ناستې دوهمه برخه چې کره کتنې ته ځانګړې شوې وه پیل او د ژمنې سره سم ځوان شاعر الفت پاڅون دریځ ته وبلل شو او خپل غزل یې د کرکتنې لپاره وړاندې کړ.

د غزل مطلع په دې ډول وه:

شپه مې تیره کړې په سلګو سلګو
اوس هم باران اوري په شیبو شیبو

عزت الله ځواب په ټوله کې مطلع خوښه کړه او په وینا یې، چې روانیت پکې شته دی، خو ردیف نه لري، د هغه په وینا پاڅون وویل، چې غزل یې راوړی دی، خو دا ځلور بیتونه دي او غزل باید تر پینځو او شپږو بیتونو کم نه وي، خو د ځواب دې خبرې سره ډېرى ملګري همغږي نه و او ویل یې، چې په پخوانیو شعرونو کې ان غزل درې بیتونه هم راغلی دی او دایې کومه ستونزه ونه بلله.

عابد وویل. یو وخت دغه بحث قلندر مومند ته هم وړاندې شوی و، چې غزل دې څو بیته وي. ؟ او هغه ځلوربیتونو ته هم غزل ویلی دی.

نثار د پخوانیو شاعرانو ځینې بیلګې یادې کړې، چې له مطلعې او مقطې غیر یو بیت غزلونه هم لیکل شوي دي.

عابد هم د غزل مطلعه وستایله چې ښه روانه ده.

خوشال دوراني بیا فروپي تېروتنو ته ګوته نیوله او په خبره یې، چې د شعر په لیکنی برخه کې ستونزه شته دی او د یاګانو خیال پکې نه دی ساتل شوی، ترڅنګ یې د مطلعې د نیم بیتیو ترمنځ په تړاو هم وګړېدو چې په خپلو کې یې سره نه لري.






رحت الله حکیمي بیا د مطلعې خیال او توري تول تکراري وبلل او په خبره یې، چې نوي یې څه نه دي وړاندې کړي او تکراري قافیه او خیال یې راخیستی دی.

هجرت الله اختیار بیا د غزل مطلع وستایله او زیاته یې کړه، چې ډېر ښه تصویر پکې پروت دی د هغه په وینا شاعر دومره ژړا کړې ده، چې ترسهار یې د اوښکو باران ورولی دی.

شکرالله قلندري هم تریوه بریده د اختیار د خبرې تائید کولو او ویل یې، چې دی د یو اوږده غم خبره کوي یانې شپه یې هم په سلګو سلګو تېره کړې او سهار هم په اوښکو لمانځي.

میوند شینواري که څه هم بیت تکراري بللو، خو باران او اوښکې یې پکې یوه ښه استعاره وبلله.

او د غزل اول بیت په دې ډول و:

غاړه راته راکړه او راوګوره
زه دې نه مړیږم په کتو کتو

ځواب وویل په غاړه ورکولو کې کتل نه کیږي، په وینا یې یا به دیدن غواړي او یا به غاړه.

زهیر شینواري بیا د اول بیت په تصویري برخه خبرې وکړې، وې ویل ډېر ښه او روان بیت دی. د شینواري په وینا د کتلو غوښتنه د د غاړې ورکولو نه مخکې شوې ده، چې ګوره غاړه به هم راکوې او راته به ګورې هم.

ډاکټر پرهر هم د شينواري سره همغږی و، چې د غاړې نه مخکې ورنه د کټلو غوښتنه شوې ده.
او د غزل دويم بيت بيا داسې و:

ستا په نرمه ژبه باندې خوند کوي
ته راسره وايه نور پښتو پښتو

فرهادالله اسيب وويل: په دويم نيم بيتي کې يو څه سکتېږي موجوده ده که د ( ته ) پرځای يې داسې کړي چې ( نوره راسره وايه پښتو پښتو ) نو روان به راشي.

د ( ته ) پرځای ( نوره ) کليمه ټولو ملګرو خوښه کړه.

ميوند شينواري بيا (نرمه ژبه ) مناسبه کليمه ونه بلله او پرځای د ( خوږې ژبې ) کليمه سمه ياده کړه ،خو ځينو ملګرو ورسره ونه منله.

زهير شينواري يې په ځواب کې وويل، چې موږ په ورځينو خبرو کې ډېرى وخت داسې وايو چې احمد ډېر ښه سړی دی او ډېره نرمه يا پسته ژبه لري. د شينواري په باور د ژبې لپاره د نرمې کليمې کارول پرځای کليمه بللی شو.





نهضت شيرزاد بيا د بيت په موخه وکړيدو زياته يې کړه، چې شاعر کله د خپلې معشوقې نه په پښتو خبرې اوريدلي هغه يې خوښې شوي او بيا يې ترېنه غوښتنه کړې ده، چې نوره به نو ورسره پښتو وايي.

حسن زي بيا ټول غزل تکراري ياد کړ او په باور يې خيال او کليمې يې دواړه يې تکراري دي.

محمد نادرش دانش وويل: (( زه د الفت پاځون عمر ته په کتو د هغه جرت او غزل دواړه ستايمه))
دانش په ټوله کې غزل خوښ کړ، چې روان ليکل شوی دی.

او د غزل ورستی بیت یا مقطع په دې ډول وه:

يه ! پاڅونه لرې رانه لاړلې
ځکه اوښکې ځی مې په لیمو لیمو

زهیر شینواري وویل: موږ دوه ډوله غزلونه لیکو یو یې داسې وي، چې ټول غزل یوه مانا وړاندې کوي او یو پیغام او هدف مخکې وړي، خو بل ډول یې بیا داسې وي چې هر بیت یې بېله بېله مانا ورکوي، په وینا یې د پاڅون د غزل درې بیتونه یو موضوع مخکې وړي او ورستی بیت یې بیا بله مانا لري.

ډاکټر پرهر بیا پدې نظر نه و، ویل یې په غزل کې تړاو کومه جبري خبره نه ده او دا د شاعر خپله خوښه ده، چې ټول غزل یوې موضوع ته ځانګړې کوي او که په هر بیت کې بیله بېله مانا او موخه وړاندې کوي.





عابد بیا د لیمو پرخای د بارخو کارونه سمه بلله.

د غزل په ورستي بیت کې لیمه یاد شوې و، ځکه خو یوتن بهیروال قدرت الله مشفیق د لیمو په اړه د ناستو استادانو او ملګرو نه پوښتنه وکړه، چې په سترګو کې لیمه کومې حصې ته وایې..؟ د کرکتنې په دوران کې د استادانو او د بهیروالو لخوا کافي بحث د لیمو په اړه وشو او د نثار، پرهر، زهیر شینواري او ناستو ټولو ملګرو لخوا د لېمو د څرنګوالي په اړه په زړه پورې بحث وشو او په دې برخه کې ډېرې ښې بېلګې وړاندې شوې.

په مقطعي د کرکتنې په بهیر کې ډاکټر خیرو الله خیال وویل اوس مهاله کرکتنه ډېرې وخت یوازې په شعر کې تخنیکې برخه څېړي، خو هنري او شعري برخې ته یې بیا پاملرنه نه کوي. د خیال په باور په دې شعر کې په ټوله کې د شعر هنري جوهر ډېر کم و او نېږدې یو تکراري غزل و، چې کلیمې او

لفظونه پکې هم تکراري کارول شوي وو، د هغه په وینا دا اړینه نه ده چې شاعر دې تل نوې الفاظ او نوې کلیمې د شعر لپاره پیدا کړي، خو که یو شاعر زاړه الفاظ او کلیمې هم کاروي باید کارونه او استعمال یې په نوي ډول وکړي.

ډاکتر خیال وړاندې وویل په شعر کې د تخنیکي برخې ترڅنګ شعري ښکلا او د شعر پیغام هم د شعر مهم توکي دي.

د کرکتنې په پای کې نورالحبیب نثار دریځ ته وبلل شو چې په ټوله کې د غزل په اړه خپل نظر څرګند کړي، نوموړي وویل د الفت پاڅون عمر ته په کتو یې غزل ښه او روان لیکلی شوی دی. ردیف نه لري او کافیه لري په وینا یې د ردیف اهمیت په دې کې دی چې شعر ته موسیقیت وربښي.

نثار وویل دوستانو په غزل ډېرې ښې خبرې وکړې زه پاڅون ته دوعا کومه چې نور هم په دغه لاره کې مخکې لاړ شي او ورته هیلې شته دی.

د نثار ترخبرو ورسته دریځوال خپله د شعر شاعر الفت پاڅون ته بلنه ورکړه، پاڅون د ټولو ملګرو او استادانو مننه وکړه، چې د ده په شعر یې خپل نیک او رغنده نظرونه وکړل وې ویل ډېر څه یې د نن کرکتنې یاد کړل، چې په راتلونکی کې به ترېنه ګټه اخلي.
له کره کتنې وروسته ازاده مشاعره وشوه.
عمران الله خنجر د خپل شعر ویلو پرمهال یادونه وکړه چې باید په بهیر د هرې برخې لپاره وختونه ځانګړی شي
د هغه په نظر که کرکتنې ته نیم ساعت او د مشاعرې لپاره یو ساعت وخت ورکړل شي نو لدې امله ښه ده چې له یوې خوا به وخت په نظر کې نیول شوي وې او له بلې خوا به غونده له خسته کیدو ژغورل شوي وي
هغه په یو شمیر بهیروالو له دې امله نیوکې وکړې چې د غونډې پرمهال پاڅیږي او د نورو ملګرو سره بنډارونه کوي چې په خبره یې ښه کار نه دی.

د یادو شوو کسانو سربېره دغو کسانو هم خپل شعرونو وویل:
ادریس سیاوش، اکرام الله اکرام، انجینر راحت ګل زیارمل، شامحمود شینواري، سید هدایت الله شیدا، صدیق الله صادق، هجرت الله اختیار، نصرت الهام، سعدالله جان فطرت، ایمل مړوند، فرید الله مشفیق، فریدون ریان، عماد الدین دوران، کمال الدین اظهار، شفیق الله هیشام، جلال الدین جمال، زمری غزیزي، خوشال دورانی، نهضت شېرزاد، رحمت الله حلیمي، هارون، ډاکټر بشیر احمد پرهر، انجینر طارق تسل، محمد نعیم زهیر، فریدالله ملاتړ، حضرت یوسف یوسفزي، ډاکتر خیروالله خیال، پرهیز شګیوال، الفت پاڅون، اکرام بهسودي، ثاقب ایل، فرهاد الله اسیب، عرفان الله بیدار، فهیم رحمیزي، ضیالدین همت مل، محمود خزان، احمد جمال جمال، صیام الدین پسرلی، بازمحمد عابد، حسنزي ، غزت الله ځواب، شکرالله قلندري، محمد نادر دانش، ومحمد واصل وصال، او عبدل حلیم همت.

د غونډې په ورستۍ برخه کې تر مشاعرې وروسته یو ځل بیا د دې اونۍ د غونډې مشر نورالحبیب نثار دریځ ته د غونډې د ارزولو په موخه وغوښتل شو.

نوموړي وویل نن ډېر زيات خوشاله دی، چې په ختيځ ادبي بهير کې د ګډون وياړ لري په خبره يې دی د دا ډول غونډو د ډېريدو پلوي دی ادبي غونډې، چې څومره ډېرې شي هماغومره کار به شوی وي.

هغه د ختيځ ادبي بهير اونيزې ناستې ډېرې ارزښتناکې وبللې او خوښي يې ښکاره کړه چې ځوانان کار کوي او د ادب د بډاينې په موخه هلې ځلې کوي.

د ښاعلي نثار په وينا چې د داډول غونډو د جوړولو موخه د ځوانو استعدادنه غوړول او روزل دي، په باور يې چې څومره ډېرې وي هماغومره به يې ډېر استعدادونه روزلي، خو ټينګار يې وکړ چې په دې برخه کې بايد سالم رقابت وشي او د ښه احساس نه پکې کټه پورته شي.

نثار د عمران الله خنجر هغه نظر هم تائيد کړ چې بايد ختيځ ادبي بهير د هرې برخې لپاره ځانګړی وخت بيل کړي.

نثار وویل که څه  هم دا کار تراوسه پورې دوی په کابل ادبي بهير کې هم نه دی کړی، خو ولې که ختيځ ادبي بهير دا کار وکړي، نو ښه به وي او د وخت سپما به پکې شوي وي.

تر نثار ورسته د دې غونډې يو مېلمه ډاکتر صداقت هم خبرې وکړې او د بهير د اونيزو ناستو پر پيليدو يې خوښي ښکاره کړه او هيله يې څرګنده کړه چې دا بهير به په راتلونکې کې تولنې ته ډېر ښه او تکړه ځوانان وړاندې کړي.

د راتلونکې غونډې لپاره ايمل مړوند ژمنه وکړه چې خپله نثرې ليکنه به د کرکتنې په موخه راوړي.

او غونډه د دوعا په کولو غرمه مهال پای ته ورسدله.

بازګشت به صفحه اصلی  –  [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)